هاري ۲۰۰۹/۱۱/۰۱

# ګران قیمت، او د بري کم احتمال

تېره اونۍ د نېشن اونیز ي د افغانستان په اړه د یو شمېر امریکایي څارونکو نظرونه خپاره کړي ول. له هغو مقالو څخه یوه د ستیفن والټ په قلم لیکل سوې وه. د امریکا په تولنه او لیکوالانو کي په زیاتېدونکې توګه د افغانستان د جنګ لپاره عام ولسي ملاتړ کمېږي. د امریکایي ټولني بنې، چپ، لیبرال، محافظ کاره، پخواني دپلوماتان او د خارجه وزارت ځوان مامور ښاغلی هو ګومان کوي چي په افغانستان کي دامریکایي عسکرو د اوږدې مودې پاته کېدل او هلته اضافه عسکر استول سم کار ندی. زیاتره امریکایان فکر کوي چي جنګ اوږدېږي، تلفات زیاتېږي، او د جنګونو لګښت اقتصاد خراب کړی او خزانه یې تشه توره کړېده. پدې مقاله کي زیاته توجه د جنګ بشري او اقتصادي لګښتونو ته سوې ده. بل دا چي په امریکا کي دعمومي افکارو یوه بېلګه هم ده. په امریکا او اروپا کي د عامه افکارو نوي سروې ښیي چي د افغانستان د جنګ په ارتباط خلک ستړی او شکمن سوي دی. همدې مسلې د ښاغلي اوباما پر تصمیم نیولو باندي هم اغېزه ښندلې ده، او د تصمیم کار یې ځنډنی او ټکنی کړی دی. همدا سبب دی چي رپبلیکن او نور مخالفان ښاغلي اوباما په ټکنیتوب او نه قاطعیت باندي تورنوي. د جمهوررییس اوباما په حزب کي مخالفت د رپبلیکن په پرتله زیات سوی دی. مقاله د اکتوبر پر ۲۱ مه د نېشن په ویب سایټ کي خپره سوې ده، او قریب ټوله ترجمه سوېده.

د افغانستان په باب تصمیم نیول د جنګ د قیمت په اړه ژور تفکر ته اړتیا لري. دغه راز، د بري د احتمالي ګټلو په باب هم باید پوره سوچ وسي.

موږ پوهېږو چي قمیت به ډېر ګران او جګ وي. د ۲۰۰۱ راهیسي، متحده ایالاتو د افغانستان پر جنګ باندي څه د پاسه ۲۲۳ بیلونه ډالره لګوي دي، او د جګړې کلنی لګښت څه نا څه ۵۶ بیلونه ډالرو ته رسېږي، خو واقعي قیمت به لا جګ او ګران وي، ځکه پدې قیمت کي د پوځي وسایلو استهلاک، د متقاعدو او ټپي عسکرو مصارف، او په جنګ پوري مربوط نور لګښتونه شامل ندي. تر ټولو مهمه خبره دا ده چي تر اوسه پوري څه د پاسه ۸۵۰ عسکر وژل سوي او په زرهاوو نور کاري ټپي سوي دي.

بده لا دا چي بري ته نژدې سوي لا هم نه یو. د اوباما حکومت اعتراف کوي چي چلنجونه «ډارونکي» دي، او (د امریکا د پرمختګ لپاره مرکز )وروستی خو البته د جنګ د دوام طرفداره رپوټ وایي کامیابي لاسته راوړل «د متحده ایالاتو اوږدې مداخلې ته اړتیا لري، او امریکا مجبوره ده چي د ملي امنیت ټول منابع پکار واچوي. او دا کار به اقلا لس کاله وغواړي.» دغه راز، په افغانستان کي بری دا هم ایجابوي چي داسي پولیس او پوځ جوړ سي چي د افغانستان حکومت به یې په مالي لحاظ د چلولو او تمویل توان ونلري، مانا داچي کابل به تر ابده پوري د متحده ایالاتو چاندو او مرستو ته اړ وي.

مطلب دا چي: په افغانستان کي پاته کېدل به ډېر نور امریکایي عسکر د مرګ ګوله کړي، خو بېشماره ملکي افغانان به هم سټ سي، او په سلهاوو بیلونه ډالره به نور هم مصرف سي.

مګر ایا د افغانستان د معاملې احتمالي ګټه په تاوان ارزي؟ جمهوررییس اوباما وایي موږ باید اجازه ور نه کړو چي افغانستان یوځل بیا « دالقاعدې پداسي خوندي مرکز بدل سي چي له هغه ځایه به د امریکایانو د وژولو بندوبست کیږي.» خو په افغانستان کي د طالبانو ماتول د القاعدې د خنثی کولو کلي او د حل لاره نده. حقیقت دا دی که چیري په افغانستان کي د حکومت او ملت جوړولو هڅي او چاري زموږ تر اټکل او توقع لا ښې سمبال سي، د افغانستان حکومت به بیا هم د هېواد پر ډېرو سیمو باندي محدود حاکمیت ولري، او د القاعدې د حجرو د بیا را خوټېدو مخنیوی به ونه کړای سي.

بلخوا، القاعده دخپلو حملو او دسیسو لپاره پراخو سیمو او مجهزو اډو ته اړتیا نلري؛ ځکه څه چي القاعده ضرورت ورته لري هغه د نړۍ په ګوټ ګوټ کي امن کورونه او د شیهدانو بلقوه کاروانونه دي. د القاعدې «کلون» همدا اوس په یمن، سومالیا، او نورو ځایونو کي ګرځي راګرځي. نو بنا، په افغانستان کي د القاعدې د مشرانو لپاره د «ټېک ځایونه» نه پرېښودل به د ا لقاعدې مرګاني خطرونه کم نه کړي. که چیري القاعده زموږ اصلي اندېښنه وي، نو په افغانستان کي جنګ په زیاتېدونکی توګه یو حماقت دی.


افغان جرمن آنلاین تاسو په درنښت همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

لنډه داچي زموږ د بري لپاره احتمال ډېر کم دی. د حامد کرزي حکومت فاسد، بې کفايته، او د اصلاحاتو په مقابل کي حساسيت لري. طالبان په پاکستان کي د سبب ځايونه لري او کولای سي چي د محلي خلکو په مينځ کي پټ سي. همدا واقعيت هغوی ته ددې چانس ورکوي چي زموږ زني را وتړي. پاکستان له ډېر وخت راهيسي د طالبانو تر شا ولاړ وو، او اوس يې هم مطمين ملګری دی. زموږ اروپايي ملګري له جنګه بېزاره سوي دي، او د وتلو لاري چاري لټوي. هر څونه ډېر عسکر چي افغانستان ته استوو، په هغه اندازه د افغانانو په مسايلو کي زياته مداخله کوو، هر څونه ډېر چي د بهرني اشغالګرانو شکل او رنګ اخلو، په هغه اندازه به د سخت مقاومت سره مخامخ کېږو. نو بنا، د متحده ايالاتو د بري لپاره تمه ډېر کمه ده.

له نيکه مرغه، له افغانستانه به د امريکا د عسکرو راايستل ا لقاعده غښتلې نه کړي. که چيري طالبانو يو ځل بيا قدرت ترلاسه کړ، هغوی شايي دې نتيجې ته رسېدلي وي چي د اسامه بن لادن ورتګ به د هغوی لپاره ډېر خطرناکه وي. مګر که چيري هغه ورسي، يو وچي ته محاط او وروسته پاته افغانستان به پر امريکا باندي د حملې لپاره مناسب ځای نه وي. همدا سبب وو چي د سپټمبر د يوولسمي دسيسه په هامبورګ جرمني کي وتړل سوه. که چيري د القاعدې مشران مجبوره وي چي په يوځای کي پټ وي، زموږ لپاره تر بل ځای افغانستان ډېر ښه او په ګټه دی.

حقيقت دا دی چي دوی مجبوره دي چي په يوځای کي پټ سي، خو افغانستان به د پټېدو لپاره مناسب ځای نه وي. بن لادن تر سپټمبر پخوا تر يوه حده پوري په افغانستان کي ازاد تګ راتګ او عمليات کول، ځکه متحده ايالاتو د هغه پرخلاف پوره جنګ نه وو اعلان کړی. خو اوس هغه ورځي ولاړې اوختمي سوې. طالبان به ونه کړای سي چي بن لادن د متحده ايالاتو د کومندوعسکرو، توغنديو، او ډرونز طيارو په مقابل کي وساتي. هغه او قاتل ملګري به يې مجبوره وي چي مدام په يوه مصون کي خپ ناست وي، له همدې سببه به د طالبانو کاميابي د بن لادن موقعيت ټينګ نه کړي.

لنډه داچي په افغانستان کي د متحده ايالاتو بری به القاعده ختمه نه کړي، او هم به له هغه هېواده د راوتلو شرايط لا خطرناکه نه کړي. نو که چيري د افغانستان د جنګ نتيجه د القاعدې پر خطر باندي چندان اغېزه نلري، لازمه نده چي د امريکايانو ويني او خزانه هلته عبث او ضايع سي.

د اوباما لپاره تصميم نيول بايد اسانه وي، ځکه د جنګ لګښت ورځ په ورځ زياتېږي، ګټي يې خورا کمي دي، او د بري احتمال يې هډوښکاري نه . که چيري ښاغلی اوباما همدا مطلب امريکايانو ته تشريح کړي، او ورته ووايي چي د راوتلو وخت دی، اکثره به ورسره موافقه وکړي.


افغان جرمن آنلاين په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکنې د ليکنيزې ښې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ